د کليوالو د اقتصاد پر وده باندي مؤثر عوامل (کندهار ولايت شپږمه ناحيه)

عبدالباري مل[1*]، اسدالله سعادت[1]، محمد يونس نظرزی[2]

[1]د کرنيزي توسعې څانگه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان

[2]د کرنيز اقتصاد څانگه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان

[*]د مسؤل ليکوال ايميل ادرس: abdulbari.mal7@gmail.com

لنډيز

کليوالي اقتصاد هغه اقتصادي، ټولنيز او توليدي فعاليتونو ته ويل کېږي چې د کليوالو اوسېدونکو د ژوند، عايد او معيشت بنسټ جوړوي او د وگړو زياته برخه يې په کرنه، مالداری او اړوندو سکتورونو بوخت وي. د کليوالي اقتصاد وده د ټولنې په اقتصادي ثبات، د فقر په کمښت، د کاري فرصتونو په زياتوالي او د ژوند د کيفيت په لوړوالي کي مهم رول لري. د دې څېړني موخه د کليوالو د اقتصاد پر وده باندي د مؤثرو عواملو معلومول دي. دا ساحوي څېړنه د کندهار ولايت د شپږمي ناحيې په (محل نجات او زوړښار) کليو کي ترسره سوې، چې معلومات يې د 48 کورنيو څخه د پوښتنپاڼې له لارې راټول او د SPSS 26 پروگرام په وسيله تحليل سوي دي. د څېړني موندنو څرگنده کړه چې مناسب بازار، د کار فرصتونه، د اوبو لگولو سيستم، اصلاح سوي تخمونه، سړکونه، مخابراتي خدمات، امنيت، مسلکي زده کړې او د پراختيايي پروژو شتون د کليوالي اقتصاد پر وده باندي مثبت او مؤثر اغېز لري. د تولید زياتوالی، د عايد د لوړوالی، د بې وزلۍ په کمښت او د اقتصادي ثبات په پياوړتيا کې مهم رول لوبوي. څېړنه وړانديز کوي چې د کرنې د پراختيا لپاره ترويجي پروگرامونه پراخ سي، بنسټيز خدمات پياوړي سي او کليوالي سيمو ته د اقتصادي فرصتونو د پراختيا لپاره لازمي اسانتياوي برابري کړل سي.

کليدي کليمې: اقتصادي پراختيا، اقتصادي عوامل، زيربناوي عوامل، عايد، کليوالي اقتصاد، کليوالي وده، کليوالي پراختيا

سریزه

الحَمْدُ لِلَّه رَبِّ الْعٰلَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ.

د کلیوالي اصطلاح تعریف له یوه هیواد څخه تر بل هېواد پورې توپیر لري، خو عموماً د ښاري اصطلاح په مقابل کې کارول کیږي. د بېلګې په توګه، په جاپان کې دا کلمه د نفوسو د تراکم پر بنسټ تعریف سوې ده، هغه سیمې چې د هر مربع کیلومتر په ساحه کې د نفوسو تراکم تر (4000) کسانو زیات وي ښاري بلل کیږي او له دې پرته سیمې کلیوالي ګڼل کیږي، د کلیوالي سیمو په یو شان ډول تعریفول ستونزمن دي. له همدې امله، د کلیوالي اصطلاح د ښاري سیمو په نسبت د یوه نسبي مفهوم په توګه، د هر هېواد د ټولنیزو، اقتصادي او طبیعي شرایطو پر بنسټ کارول تر ټولو مناسب ښکاري. دغه اصطلاح هغو سیمو ته هم کارول کېدای سي چې د اوسېدونکو زیاته برخه یې په کرنه، مالداری، ځنګلداری او کب نیونې باندې مصروف وي، کلی د اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي واحد په توګه د کلیوالي پراختیا اساسي بنسټ ګڼل کیږي (Tuitjer & Steinführer, 2021). په نړیواله کچه د نړۍ د نفوس زیاته برخه په کلیوالي سیمو کې استوګن دي (World Bank, 2020)، د کلیوالي سیمو وده د هر هیواد د اقتصادي ثبات لپاره خاص اهمیت لري او د ملي پراختیا مهمه برخه ګڼل کیږي، د کلیوالي سیمو د پراختیا لپاره یو شمیر تګلاري سته چې په هغه کې د کرنې د سکتور وده، د اوسیدو مناسب پروګرامونه، د عامه خدماتو او پروګرامونو جوړول او د ټولنې علمي پراختیا پکښې شامل دي (Rashid et al., 2019).

هغه هیوادونه چې د کلیوالو زیاته برخه لري او د ښاري خلکو سره د نابرابرۍ لوړه کچه ولري د ګڼو اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخ کیږي (Rodela, 2010). د پرمختیایي هیوادونو د کلیوالو زیاته برخه خپل د ژوند لومړني ضرورتونه په مستقیم او غیر مستقیم ډول باندې د کرنې او کرنیزو فعالیتونو له لارې په لاس راوړي (Danilov-Danil'yan et al., 2009)، ولې د یادې سیمې د کرنیزو فعالیتونو په برخه کې له ګڼو اقتصادي ستونزو سره مخ وي، مهم لاملونه یې د پانګې کمه اغېزمنتیا، عنعنوي کرنه، د تولیدي عواملو څخه ناسمه ګټه اخیستنه، د مارکیټ ګډوډي او د زیر بناوو کمښت دي (Dempsey et al., 2012)، په همدې اساس په ځینو کلیوالي سیمو کې کرنې خپل اهمیت له لاسه ورکړی او ځای یې کرنیز تنوع، لاسي صنایع، د غذایي توکو تولید، سیاحت او نورو فعالیتونو نیولی دی (Long et al., 2019)، که څه هم د کلیوالي اقتصاد په برخه کې د کرنې وندې ورځ په ورځ کمیږي ولې بیا هم کرنه په کلیوالي سیمو کې د

کارموندني په رامنځته کولو او د نفوس په وده او د کليوالي سيمو د اقتصادي او د ټولنيز ثبات په ټينګښت کي اساسي ونډه لري (Sýkora & Bouzarovski, 2012).

کليوالي سيمې د ملي اقتصاد، چاپېريال او ټولنيز پرمختګ په برخه کې مهم رول لري او د کلتوري ميراث په ساتنه او د کروندګرو د باثباته عايد په تأمين کي مرسته کوي (Zinchuk et al., 2018). د کليوالي زيربناوو پراختيا، د خلکو ګډون، ځواکمنتيا او مالي ملاتړ د کرنيز سکتور د ودي او اغېزمنتيا مهم عوامل دي (Storey, 2009; Melnyk et al., 2019; Song et al., 2022). همدارنګه، د سالمي بازاري سيالۍ، لوړي سوادکچې، مناسبو کاري قوانينو، عامه زده‌کړو او ترانسپورتي شبکو شتون د کليوالي عايداتو په لوړولو کې مهم رول لري (Drazen & Eckstein, 1988; Aldrich, 1997). د کليوالي مشرانو ونډه هم د نوي تکنالوژۍ او عصري کړنو په منلو او پلي کولو کې د پام وړ ده (Pulver, 2020).

د کليوالي اقتصادي پراختيا مهم محدودوونکي عوامل د کرنيزي تکنالوژۍ وروسته‌والی، کمزوري زيربناوي، د ځمکو د ملکيت نامنظم سيستم، د کروندګرو ټيټ ظرفيت او د سيمه‌ييزې حکومتولۍ کمزورتيا ده (Qing-hua, 2020). په مقابل کي، اقتصادي او سياسي ثبات، د ځمکو مناسب قوانين، بازارونو ته لاسرسی، د عصري تکنالوژۍ کارول، د ځمکو اغېزمن مديريت او د غيرکرنيزو عايداتي فعاليتونو پراختيا د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا اساسي شرايط ګڼل کېږي (Gardner, 2005; Andersson Djurfeldt & Hillbom, 2016; Feng, 2012).

د کليوالي کوچنيو کاروبارونو، زده‌کړو، مهارتونو، اقتصادي پانګي او د ځمکو د مالکيت پراختيا د کاري فرصتونو په رامنځته کولو او د بېوزلۍ په کمولو کې مهمه ونډه لري (García-Rojas & Reyes-Rodríguez, 2020; Faridi & Basit, 2011). همدارنګه، د کرني ترڅنګ د صنعت، لاسي صنايعو، سوداګرۍ او خدماتو پراختيا د کليوالي اقتصاد د تنوع، اقتصادي ودي او خوړو د امنيت او مصؤنيت په تأمين کي اغېزمن رول لري (Dannenberg & Kulke, 2016; Schrieder et al., 2000; Huang et al., 2008). د کليوالو نوښتګر فکر، د کرني عصري کول، د ترانسپورټ، اوبو لګولو، کرنيزو ځمکو او تکنالوژۍ ښه‌والی د توليد کيفيت لوړوي، لګښتونه کموي او د کليوالو ژوند ښه کوي (Shuang & Liang, 2019; Wang & Zhao, 2018). په دې برخه کي، د کرني او صنعت ترمنځ د پياوړو اړيکو رامنځته کول د باثباته اقتصادي پرمختګ لپاره اړين دي (Janda et al., 2013).

سربېره پر دې، کليوالي سياحت د دوامدارې پراختيا، کارموندني، اقتصادي برابرۍ، کلتوري تبادلې او نړيوالو اړيکو په پياوړتيا کې مهم رول لري (Aref & Gill, 2010; Egbali et al.,

(2010 همدارنګه، په کلیوالي سیمو کې د غیرکرنیزو صنعتونو، په ځانګړې ډول تولیدي فابریکو، پراختیا د عایداتو د لوړوالي او اقتصادي ودې زمینه برابروي (Islam & Hehui, 1994; Rozelle & Boisvert, 1995; Song et al., 2022).

د کلیوالي سیمو اقتصادي وده او پراختیا د کلیوالي تحرک، صنعتي ودې او چاپېریالي ثبات زمینه برابروي او د کلیوالو د عصري کېدو بهیر چټکوي(Jiang & Peng, 2018). کلیوالي اقتصادي پراختیا د تولیدي ظرفیتونو اوږدمهاله پیاوړتیا ته ویل کېږي، چې د ژوند د کیفیت په ښه‌والي، د بېکارۍ په کمښت او د کورنۍ تولید په زیاتوالي کې مهم رول لري. د دې بهیر اساسي عناصر په ځمکه، زیربناوو، تجهیزاتو او بشري سرچینو کې پانګونه، د روغتیا او زده‌کړو پراختیا او د کاري مهارتونو لوړول دي(Khodabandehlo et al., 2024). سره له دې چې کلیوالي اقتصادي پراختیا په ملي کچه د اقتصادي ودې، د بېکارۍ د کمښت او د کلیوالو د عایداتو د زیاتوالي لپاره مهمه ده، خو په سیمه‌ییزه کچه ورته کافي پاملرنه نه ده شوې او لا هم په ځینو کلیوالي سیمو کې خلک لومړنیو اړتیاوو ته لاسرسی نه لري. همدارنګه، په دې برخه کې د سیمه‌ییزو څېړنو محدودیت د یوې مهمې څېړنیزې تشې ښکارندویي کوي. له همدې امله، دا څېړنه د کلیوالو د اقتصادي وضعیت د ښه‌والي لپاره د اغېزمنو عواملو د معلومولو په موخه ترسره شوې ده.

د کلیوالي اقتصاد د پراختیا مهمي سرچینې

کرنه په کلیوالي سیمو کې د کاري فرصتونو په ایجاد او د عوایدو د زیاتوالي له لارې د کلیوالو د اقتصادي ودې په تأمین کې مستقیم رول لري (Deogharia, 2018). د کرنې په پراختیا سره د کلیوالو د اقتصاد د پراختیا لپاره زمینه برابرېږي. د کلیوالو د اقتصاد د پرمختګ لپاره څو اساسي عوامل ډېر رول لري، چې یې طبیعي سرچینې او زیربناوي، بشري سرچینې، بازارونه، مدیریت او مالي سرچینې شاملي دي، مطلب دا چې که په یوه کلیوالي سیمه کې مناسبې زیربناوي، روزل سوی او ماهر کاري ځواک، د محصولاتو لپاره بازار، اغېزمن مدیریت او کافي مالي امکانات موجود وي، نو اقتصادي فعالیتونه پراخېږي، د خلکو عاید لوړېږي، د کار زمینه برابرېږي او کلیوالي اقتصاد پیاوړی کېږي. له همدې امله، د کلیوالي سیمو باثباته اقتصادي پرمختګ د دغو ټولو عواملو په متوازنه پیاوړتیا پورې تړلی دی (Bradshaw & Blakely, 2002). که څه هم کلیوال د معیشت پنځه ګونو سرمایو(طبیعي، مالي، فزیکي، اجتماعي، انساني) ته لاسرسی لري ولي د خپلو اقتصادي فعالیتونو د مخته وړلو او د ژوند د لومړنیو ضرورتونو د ترلاسه کولو لپاره تر ډېره حده پورې د طبیعي، فزیکي او انساني سرچینو څخه په لاس باندې راوړي (Sadat et al., 2022). د کلیوالو د عاید د ترلاسه کولو او اقتصادي ودې بله مهمه منبع سیاحت دی، د

سياحت له لاري په کليوالي سيمو کي کاري فرصتونه زياتيري، د کليوالو د عايد تنوع رامنځته کيږي او د کليوالو د ټولنيزي او اقتصادي ودي سبب کيږي (Ivona, 2021).

1- جدول: د کليوالو د اقتصادي ودي مهمي سرچينې

سرچينه	تشريح
طبيعي سرچينې او زيربناوي	ځمکه، ودانۍ، موقعيت، زيربناوي او طبيعي منابع
بشري سرچينې	ماهر او روزل شوی کاري ځواک، د کار موجوده قوه، تعليمي او روزنيز ظرفيتونه
بازارونه	د بازار تحليل، سيالي، بازار ته نفوذ، بازارموندنه او د پانگوني ستراتيژي
مديريت	اداري جوړښت، مديران، څېړنه او پراختيا(R&D) ، بازارموندنه او خرڅلاو، حقوقي چاري
مالي سرچينې	شخصي پانگه، پورونه، د پانگوني بنسټونه، سبسايډي او بديلي مالي سرچينې

(Bradshaw & Blakely, 2002)

د څېړنې تګلاره

دا يوه ساحوي څېړنه ده چې د افغانستان د کندهار ولايت په شپږمه ناحيه کي د (1405) کال په لومړيو کي ترسره سويده، د څېړنې معلومات د پوښتنپاڼې په واسطه د شپږمي ناحيې په کليوالي سيمو کي راټول سويدي. شپږمه ناحيه يوشمير کلي لري چې د هغه د جملې څخه يې (محل نجات او زوړښار) لوی او مهم کلي دي، د څېړنې معلومات په يادو کليو کي د کليوالو څخه د پوښتنپاڼې د جوابولو له لاري راټول سويدي، پوښتنپاڼې مختلفې برخې لرلي چې په هغه کي د جواب ويونکو عمومي/شخصي معلومات، د کورنۍ اقتصادي وضيعت، د کليوالو د اقتصاد پر پرمختگ باندې اقتصادي عوامل، د کليوالو د اقتصاد په پرمختگ باندې کرنيز عوامل، پر کليوال اقتصاد باندې فزيکي عوامل او پر کليوالي اقتصاد باندې مؤثر ټولنيز او اداري عوامل شامل دي، په هره برخه کي د جواب ويونکو څخه په ښه ډول د معلوماتو د راټولولو لپاره کافي پوښتنې ځای پرځای سوي وې.

هغه کليوال چې د يادو کليو اصلي او دايمي اوسيدونکي وه تر دقيقي شميرنې وروسته شاوخوا (55) کورنيو ته ورسيدل، د مورگان (1970) جدول په اساس باندې (48) کورنۍ انتخاب سوې چې په يادو کورنيو کي پوښتنپاڼه په تصادفي ډول جواب سوي او معلومات ورڅخه راټول سوي دي.

د څېړنې معلومات تر کوډ کولو وروسته په ($SPSS_{26}$) ته داخل سوي او لومړني ازمايښتونه (ټيسټونه) وربانديې ترسره سويدي.

د معلوماتو د تحلیل لپاره فریکونسي، اوسط او پر Std.D باندې برعلاوه د Freidman ټیسټ هم د اوسطونو د درجه بندۍ د معلومولو لپاره ترسره سویدی.

موندنې

اقتصادي عوامل

د 2 جدول د تحلیل له مخې، د کرنیزو محصولاتو لپاره مناسب بازار د (4.78) درجه اي اوسط سره د کلیوالي اقتصاد د ودې تر ټولو اغېزناک اقتصادي عامل بلل سوی دی. دا پایله ښیي چې مناسب بازار د کرنیزو محصولاتو د خرڅلاو، د بزګرانو د عاید د زیاتوالي او د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره بنسټیز رول لري.

ورپسې، د کار د فرصتونو زیاتوالی د (4.65) درجه اي اوسط سره دوهم مهم اقتصادي عامل بلل سوی دی، چې د بېکارۍ په راکمولو، د کورنیو د عاید په لوړولو او د کلیوالي اقتصادي ثبات په پیاوړتیا کې مهم رول لري.

همدارنګه، د کورنۍ تولیداتو پلور د (4.48) درجه اي اوسط سره دریم ځای خپل کړی، چې د کورنیو د مالي وضعیت په ښه والي، د محلي اقتصاد په پیاوړتیا او د اقتصادي فعالیتونو په پراختیا کې اغېزمن تمام سوي دي.

د عاید تنوع د (3.80) درجه اي اوسط سره څلورم مقام خپل کړی، چې د اقتصادي خطرونو په کمولو، د عایداتي سرچینو په پراختیا او د کورنیو د اقتصادي ثبات په لوړولو کې مهم رول لري.

سربېره پر دې، کوچني کاروبارونه د (3.53) درجه اي اوسط سره د عاید د زیاتوالي، ځان بسا ینې او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره اغېزمن بلل سوي دي.

همدارنګه، د کورنۍ میاشتنی عاید د (3.45) درجه اي اوسط له مخې د کلیوالي کورنیو د اقتصادي وضعیت منځنۍ کچه څرګندوي.

په پای کې، پورونو او مالي سرچینو ته لاسرسی د (3.31) درجه اي اوسط سره اووم مقام لري. که څه هم دغه عامل د پانګوني، اقتصادي فعالیتونو د پراختیا او د تولید د زیاتوالي لپاره مهم بلل سوی دی، خو د نورو اقتصادي عواملو په پرتله یې اغېز نسبتاً کم ارزول سوی دی.

د جدول د احصایوي تحلیل له مخې، د ګډونوالو شمېر ($N = 48$) وو. د Chi-Square ارزښت (26.687)، د آزادۍ درجه ($df = 6$) او د معنویت کچه ($Asymp. Sig. = 0.000$) ترلاسه سوې. ځکه چې د معنویت کچه ($p = 0.000$) له (0.05) ځخه کمه ده، نو څرګندېږي چې د اقتصادي عواملو ترمنځ د اهمیت په درجه بندۍ کې د احصایوي پلوه د پام وړ او معنی لرونکی توپیر

موجود دی. دا پايله ښيي چې د څېړني گډونوالو د کليوالي اقتصاد په وده کې د اقتصادي عواملو اهميت يو ډول نه دی ارزولی، بلکې ځينې عوامل يې د نورو په پرتله ډېر اغېزمن بللي دي.

په ټولیز ډول، د 2 جدول پايلې څرگندوي چې د کرنيزو محصولاتو لپاره مناسب بازار، د کار د فرصتونو زياتوالی، د کورنۍ توليداتو پلور او د عايد تنوع د کليوالي اقتصاد د ودې او پياوړتيا تر ټولو مهم اقتصادي عوامل بلل سوي دي، په داسې حال کې چې کوچني کاروبارونه، د کورنۍ مياشتنی عايد او پورونو او مالي سرچينو ته لاسرسی نسبتاً لږ اهميت لري. د Chi-Square ازموينې پايلې هم دغه توپير د احصايوي پلوه تائيدوي او څرگندوي چې د اقتصادي عواملو د اغېزمنتيا ترمنځ د پام وړ او احصايوي پلوه معنی لرونکی توپير موجود دی. دا پايله څرگندوي چې د کليوالي اقتصاد د ودې لپاره بايد تر ټولو ډېره پاملرنه د مناسبو بازارونو رامنځته کولو، د کار د فرصتونو زياتولو، د کورنۍ توليداتو د بازارموندنې او د عايد د سرچينو د تنوع پر پراختيا متمرکزه سي.

2- جدول: د کليوالو د اقتصاد په وده کې اغېزمن اقتصادي عوامل

اقتصادي عوامل	اوسط	انحراف معيار	درجه ای اوسط	درجه
د کرنيزو محصولاتو لپاره مناسب بازار د کليوالو د اقتصاد وده کې مرسته کوي	4.5417	1.32019	4.78	1
د کار د فرصتونو زياتوالی د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا سبب کېږي	4.5000	1.30466	4.65	2
د کورني توليداتو پلور د کليوالو مالي وضعيت ښه کوي	4.3958	1.23322	4.48	3
د عايد تنوع	3.9375	1.34332	3.80	4
کوچني کاروبارونه د کليوالو عايد لوړوي	3.7500	1.40667	3.53	5
د کورنۍ مياشتنی عايد	3.7708	1.46214	3.45	6
پورونو او مالي سرچينو ته لاسرسی اقتصادي فعاليتونه زياتوي	3.6250	1.42359	3.31	7

احصائيوي ارقام

N	48
Chi-Square	26.687
df	6
Asymp. Sig.	0.000

کرنیز عوامل

د 3 جدول د تحلیل له مخې، د درجه اې اوسط پر بنسټ د اوبو لګولو مناسب سیستم د (4.24) درجه یې اوسط سره د کرنې د پرمختګ او د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره تر ټولو اغېزناک کرنیز عامل بلل سوی دی. دا پایله ښیي چې د اوبو اغېزمن مدیریت د حاصلاتو په زیاتوالي، د کرنیز تولید په ثبات او د بزګرانو د اقتصادي وضعیت په ښه والي کې بنسټیز رول لري.

ورپسې، اصلاح سوي تخمونه او سري د (4.04) درجه اې اوسط سره دوهم مهم کرنیز عامل بلل سوی دی، چې د تولید په زیاتوالي، د محصولاتو د کیفیت په ښه والي او د کرنیزو پایلو په پیاوړتیا کې مهم اغېز لري.

همدارنګه، کرنه د کلیوالو د عاید مهمه سرچینه ده، چې د (3.86) درجه اې اوسط سره درېیم مقام خپل کړی دی. دا پایله څرګندوي چې کرنه د کورنیو د عاید په لوړولو، اقتصادي ثبات او د ژوند د کچې په ښه والي کې ارزښتناک رول لري.

د کرنیزو روزنو شتون د (3.39) درجه اې اوسط سره څلورم ځای لري، چې د کروندګرو د مهارتونو په لوړولو، د نوو کرنیزو معلوماتو او تخنیکونو په انتقال او د اقتصادي وضعیت په ښه کولو کې اغېزمن رول لوبوي.

سربېره پر دې، عصري کرنیزې طریقې د (3.15) درجه اې اوسط سره پنځم مقام لري، چې د تولید د کچې په لوړولو، د حاصل‌خېزۍ په زیاتوالي او د کرنیزو فعالیتونو په پراختیا کې مرسته کوي.

په پای کې، ترویجي پروګرامونه د (2.32) درجه اې اوسط سره شپږم مقام لري. که څه هم د نورو کرنیزو عواملو په پرتله یې اغېز نسبتاً کم ارزول سوی دی، خو بیا هم د کرنیزو معلوماتو د خپرولو، د نوو ټکنالوژیو د انتقال او د بزګرانو د ملاتړ لپاره مهم بلل کېږي.

د جدول د احصایوي تحلیل له مخې، د ګډونوالو شمېر (N = 48) وو. د Chi-Square ارزښت (41.218)، د آزادۍ درجه (df = 5) او د معنویت کچه (Asymp. Sig. = 0.000) ترلاسه سوه. ځکه چې د معنویت کچه (p = 0.000) له (0.05) څخه کمه ده، نو څرګندېږي چې د کرنیزو عواملو ترمنځ د اهمیت په درجه‌بندۍ کې د احصایوي پلوه د پام وړ او معنی لرونکی توپیر موجود دی. دا پایله ښیي چې د څېړنې ګډونوالو د کرنیزو عواملو اهمیت یو ډول نه دی ارزولی، بلکې ځینې عوامل یې د نورو په پرتله ډېر اغېزمن بللي دي.

د 3 جدول پایلې څرګندوي چې د اوبو لګولو مناسب سیستم، اصلاح سوي تخمونه او سري، او کرنه د کلیوالو د عاید مهمه سرچینه ده د کلیوالي اقتصاد د ودې او کرنیز پرمختګ تر ټولو مهم

کرنيز عوامل بلل سوي دي. په داسي حال کي چي د کرنيزو روزنو شتون، عصري کرنيزې طريقې او ترويجي پروگرامونه نسبتاً لږ اهميت لري. د Chi-Square ازموينې پايلې هم دغه توپير احصايوي پلوه تائيدوي او څرگندوي چي د کرنيزو عواملو د اغېزمنتيا ترمنځ د پام وړ او معنی لرونکی توپير موجود دی. دا پايله څرگندوي چي د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا او کرنيز پرمختگ لپاره بايد د اوبو لگولو د سيستمونو د ښه والي، د اصلاح سوو تخمونو او سرو د لاسرسي او د کرنې د توليدي ظرفيت د لوړولو برخو ته لومړيتوب ورکړل سي.

3- جدول: دکليوالو په اقتصاد باندي اغېزه کوونکي کرنيز عوامل

کرنيزعوامل	اوسط	انحراف معيار	درجه ای اوسط	درجه
د اوبو لگولو مناسب سيستم د کرني د پرمختگ لپاره ضروري دی	4.9792	1.32873	4.24	1
اصلاح سوي تخمونه او سري د توليد په زياتوالي کي مرسته کړي	4.9583	1.25407	4.04	2
کرنه د کليوالو د عايد مهمه سرچينه ده	4.8125	1.51104	3.86	3
د کرنيزو روزنو شتون د کروند گرو اقتصادي وضعيت ښه کوي	4.4167	1.60893	3.39	4
عصري کرنيزي طريقې د توليد کچه لوړه کړې ده	4.1042	1.75329	3.15	5
ترويجي پروگرامونه	3.2917	1.82137	2.32	6

احصائيوي ارقام	
N	48
Chi-Square	41.218
df	5
Asymp. Sig.	0.000

زيربناوي عوامل

د 4 جدول د تحليل له مخي، د درجه اي اوسط پر بنسټ سړکونه او ترانسپورتي اسانتياوي د (2.65) درجه اي اوسط سره د کليوالي اقتصاد د ودي تر ټولو اغېزناک زيربنايي عامل بلل سوی دی. دا پايله ښيي چي مناسب سړکونه او ترانسپورتي اسانتياوي د کرنيزو او نورو توليداتو د لېږد، بازارونو ته د لاسرسي او اقتصادي فعاليتونو د پراختيا لپاره مهمه زمينه برابروي.

ورپسې، مخابراتي او انټرنېټي خدمات د (2.50) درجه اي اوسط سره دوهم مقام لري، چې د معلوماتو د لاسرسي، بازارموندنې، سوداګريزو اړيکو او د کليوالي کاروبارونو د پراختيا لپاره مهم رول لوبوي.

همدارنګه، عامه خدماتو شتون د (2.45) درجه اي اوسط سره دريم مقام خپل کړی، چې د ښوونې، روغتيا او نورو بنسټيزو خدماتو د برابرولو له لارې د کليوالي اقتصادي پرمختګ لپاره مناسب شرايط رامنځته کوي.

په پای کې، برېښنا د (2.41) درجه اي اوسط سره ځلورم مقام لري. که څه هم د نورو زيربنايي عواملو په پرتله يې اغېز لږ ارزول سوی دی، خو بيا هم د کوچنيو کاروبارونو، توليدي فعاليتونو او ورځنيو اقتصادي چارو د اغېزمن ترسره کولو لپاره يو مهم زيربنايي عامل بلل کېږي.

د جدول د احصايوي تحليل له مخې، د ګډونوالو شمېر (N = 48) دی. د Chi-Square ارزښت (1.159)، د آزادۍ درجه (df = 3) او د معنويت کچه (Asymp. Sig. = 0.763) ترلاسه سوې. ځکه چې د معنويت کچه (p = 0.763) له (0.05) څخه لوړه ده، نو څرګندېږي چې د زيربنايي عواملو ترمنځ د اهميت په درجه‌بندۍ کې احصايوي پلوه معنی لرونکی توپير موجود نه دی. دا پايله ښيي چې د څېړنې ګډونوالو د دغو زيربنايي عواملو اهميت نږدې يو ډول ارزولی دی او د يوه عامل د بل په پرتله د پام وړ برتری احصايوي پلوه نه ده ثابته سوې.

د 4 جدول پايلې څرګندوي چې سړکونه او ترانسپورتي اسانتياوي، مخابراتي او انټرنېټي خدمات، عامه خدمات او برېښنا د کليوالي اقتصاد د ودې او پياوړتيا مهم زيربنايي عوامل بلل سوي دي. که څه هم د درجه اي اوسط له مخې سړکونه او ترانسپورتي اسانتياوې تر نورو عواملو لوړ ارزول سوي دي، خو د Chi-Square ازموينې پايلې څرګندوي چې د دغو عواملو ترمنځ احصايوي پلوه د پام وړ توپير نه ليدل کېږي. له همدې امله، د کليوالي اقتصاد د دوامدار پرمختګ لپاره اړينه ده چې د زيربناوو د ټولو برخو د ښه والي لپاره متوازن پانګونه او پاملرنه وسي، ځکه د هر يوه پياوړتيا کولای سي د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا، د خدمتونو د کيفيت د لوړوالي او د کليوالو د ژوند د ښه والي په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي.

4- جدول: د کليوالوپه اقتصاد باندي اغېزه کوونکي زيزبناوي عوامل

فزيکي عوامل	اوسط	انحراف معيار	درجه ای اوسط	درجه
سړکونه او ترانسپورتي اسانتياوي د کليوالو د اقتصاد په وده کې مهم واقع کيږي	4.7500	1.68220	2.65	1

مخابراتي او انټرنېټي خدمات د کليوالي کاروبار په پراختيا کي مرسته کوي	4.6875	1.53202	2.50	2
عامه خدماتو شتون د کليوالي اقتصادي پرمختگ ته زمينه برابروي	4.8125	1.26586	2.45	3
بريښنا د کليوالي اقتصادي فعاليتونو د پراختيا سبب کېږي	4.6250	1.36249	2.41	4

احصائيوي ارقام

N	48
Chi-Square	1.159
df	3
Asymp. Sig.	0.763

ټولنيز او اداري عوامل

د 5 جدول د تحليل له مخي، د درجه اي اوسط پر بنسټ امنيت د (3.50) درجه اي اوسط سره د کليوالي اقتصاد د پراختيا لپاره تر ټولو مهم ټولنيز او اداري عامل بلل سوی دی. دا پايله ښيي چې امنيت د اقتصادي فعاليتونو د ثبات، د پانگوني د زياتوالي، د سوداگريزو چارو د پراختيا او د کليوالو د اقتصادي پرمختگ لپاره بنسټيز اهميت لري.

ورپسې، حرفوي او مسلکي زده کړي د (3.18) درجه اي اوسط سره دوهم مقام لري، چې د کليوالو د مهارتونو په لوړولو، د کاري فرصتونو په زياتولو، د عايد په لوړولو او د ځانبسايني په پياوړتيا کي مهم رول لوبوي.

همدارنگه، د مؤسسو او پراختيايي پروژو فعاليتونه د (3.17) درجه اي اوسط سره دريم مقام خپل کړی، چې د زيربناوو په ښه والي، د کاري فرصتونو په رامنځته کېدو، د نوو اقتصادي فعاليتونو په پراختيا او د کليوالي اقتصاد په پياوړتيا کي اغېزمن تمامېږي.

سربېره پر دې، د حکومت ملاتړ د (2.73) درجه اي اوسط سره څلورم مقام لري، چې د اقتصادي پروګرامونو په پلي کولو، د پانگوني د هڅولو او د کليوالو د اقتصادي وضعيت په ښه والي کي مهم رول لري.

په پای کي، د خلکو ترمنځ همکاري د (2.43) درجه اي اوسط سره پنځم مقام لري. که څه هم د نورو ټولنيزو او اداري عواملو په پرتله يې اغېز لږ ارزول سوی دی، خو بيا هم د ټولنيز مشارکت، ګډو اقتصادي فعاليتونو، د تجربو د تبادلې او د سيمه‌ييز پرمختگ لپاره مهم عامل بلل کېږي.

د جدول د احصايوي تحليل له مخي، د ګډونوالو شمېر ($N = 48$) دی. د Chi-Square ارزښت (19.879)، د آزادۍ درجه ($df = 4$) او د معنويت کچه ($Asymp. Sig. = 0.001$) ترلاسه سوې.

ځکه چې د معنويت کچه ($p = 0.001$) له (0.05) څخه کمه ده، نو څرګندېږي چې د ټولنيزو او اداري عواملو ترمنځ د اهميت په درجه‌بندۍ کې احصايوي پلوه د پام وړ او معنی لرونکی توپير موجود دی. دا پايله ښيي چې د څېړنې ګډونوالو ځينې ټولنيز او اداري عوامل د نورو په پرتله ډېر اغېزمن ارزولي دي.

په ټوليز ډول، د 5 جدول پايلې څرګندوي چې امنيت، حرفوي او مسلکي زده کړې، د مؤسسو او پراختيايي پروژو فعاليتونه، د حکومت ملاتړ او د خلکو ترمنځ همکاري د کليوالي اقتصاد د ودې او پياوړتيا مهم ټولنيز او اداري عوامل بلل سوي دي. د Chi-Square ازموينې پايلې هم دا څرګندوي چې د دغو عواملو د اهميت په اړه د ګډونوالو نظرونه يو شان نه دي، بلکې امنيت او مسلکي زده کړو ته يې د نورو عواملو په پرتله لوړه درجه ورکړې ده. دا موندنه څرګندوي چې د کليوالي اقتصاد د دوامدار پرمختګ لپاره د امنيت ټينګښت، د مهارتونو لوړول او د پراختيايي پروګرامونو اغېزمن پلي کول بايد د پرمختيايي پاليسۍ له لومړيتوبونو څخه وګرځول سي.

5- جدول: پرکليوالي اقتصاد باندې اغېزه کوونکي ټولنيز او اداري عوامل

ټولنيز او اداري عوامل	اوسط	انحراف معيار	درجه ای اوسط	درجه
امنيت د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا لپاره ضروري دی	5.4375	0.92037	3.50	1
حرفوي او مسلکي زده کړې د کليوالو عايد زياتوي	5.1458	1.03121	3.18	2
د مؤسسو او پراختيايي پروژو فعاليتونه د کليوالي اقتصاد په وده کې مرسته کوي	5.1042	1.32472	3.17	3
د حکومت حمايت د کليوالو د اقتصاد په وده کې مهم رول لري	4.8125	1.28255	2.73	4
د خلکو ترمنځ همکاري د کليوالي اقتصاد د پرمختګ سبب کېږي	4.6667	1.35793	2.43	5

احصائيوي ارقام

N	48
Chi-Square	19.879
df	4
Asymp. Sig.	0.001

مناقشه

د څېړنې د موندنو څخه معلومه شول چې د کرنيزو محصولاتو بازار/ مارکيټ د کليوالو د اقتصاد په وده کې مهم رول لري، کوچنې کاروبارونه د کليوالو عايد لوړوي. که څه هم د عايد تنوع د

اقتصاد په وده کي خاص رول لري او د اقتصادي شاکونو د کموالي سبب کيږي (Cavendish, 2000; Davis et al., 2010). ولي په موندنو کي څرگنده سوې چي کليوال د عايد تنوع په ډيره کمه اندازه سره لري، دا په دې معنی چي زيات شمير کليوال خپل ضرورتونه د يوې منبع څخه ترلاسه کوي. د څيړني د موندنو په تحليل کي روښانه سول چي د اوبو مناسب سيستمونه، اصلاح سوي تخمونه او سري د کرني د پراختيا له لاري په غير مستقيم ډول د کليوالو پر اقتصاد باندي مثبت تاثير لري، دا ځکه چي کرنه د کليوالو د عايد مهمه منبع او د کليوالي اقتصاد د پرمختگ مهم بنسټ تشکيلوي، چي په دې برخه کي Pain په 2010 کال کي د خپلې څيړني پايله په دې ډول بيان کړې ده، د افغانستان په کليوالي سيمو کي د هرو پنځو کورنيو څخه چي اقتصادي وده يې ترلاسه کړې وي، دوو کورنيو يې د کرني د پراختيا له لاري خپل اقتصادي ښوالی رامنځته کړی دی. ترويجي پروگرامونه د کروند گرو د ظرفيت په لوړوالي او د کرني به پراختيا کي ډير رول لري (Madu et al., 2013). ولي د څيړني په موندنو کي معلوميږي چي ترويجي پروگرامونه د تحليل په ټيټه سطحه کي قرار لري، دا په دې مفهوم چي د څيړني د ساحې کليوال وگړي و ترويجي پروگرامونو ته کافي لاسرسی نه لري. په موندنو کي څرگنده سوې چي په فزيکي عواملو کي ترانسپورتي اسانتياوي او مخابراتي او انترنيتي خدمات د کليوالو په اقتصاد کي مؤثر تمامیږي. همدارنگه په اداري او ټولنيزو عواملو کي امنيت، مسلکي زده کړي، حمايت او همکاري د کليوالو پر اقتصاد باندي مثبتي اغېزې واردوي. که څه هم بريښنا د کليوالو لپاره د زيات اهميت لرونکې ده، ولي د څيړني په ساحه کي د بريښنا د نشتون له وجهي په ټيټه سطحه کي تحليل سوي ده.

پايله

د څيړني پايله څرگندوي چي د کليوالو د اقتصاد په وده کي د کرنيزو محصولاتو مارکيټ، د کاري فرصتونو زياتوالی، د کورنيو توليداتو پلورل، کوچني کاروبارونه او د عايد تنوع په ترتيب سره د اقتصادي عواملو په حيث مهم او خاص رول لري. پايلې روښانه کړل چي د آبيارۍ عصري سيستمونه، اصلاح سوي تخمونه، کرنيزي روزني او عصري کرنيزي کړنې د کرنيزو مهمو عواملو په حيث باندي د کليوالو د اقتصاد په وده کي مهم نقش لوبوي. د فزيکي عواملو په حيث باندي د څيړني د موندنو په نتيجه کي سړکونه او د حمل و نقل لاري، انترنيتي خدمات، عامه خدمات او اسانتياوي او بريښنا د کليوالو د اقتصاد په پرمختگ کي د مهمو عواملو څخه دي. پايلې واضح کړل چي امنيت، مسلکي زده کړي، پراختيايي پروژې او ټولنيزي کړنې د کليوالو د اقتصاد پر وده باندي مثبت تاثير لري. د څيړني د ادبياتو څخه روښانه سول چي د عصري کرنيزي

تکنالوژۍ کارول، کرنيزه پراختيا، د ښار او کليوالي سيمو ترمنځ د واټن کمول، کوچني کاروبارونه، صنعت ته توجه کول، غير کرنيز فعاليتونه او کليوالي سياحت د کليوالو پر اقتصاد باندې مثبت تاثير لري.

سپارښتنې

1. د مسؤلينو له خوا څخه د کرنې د پراختيا لپاره په ساحه کې ترويجي پروګرامونه پلان او ترسره کول.
2. د اقتصادي شاکونو د مخنيوي لپاره د عايد د تنوع لپاره زمينه برابرول.
3. د اړوند ارګانونو له خوا څخه کليوالي سيمو ته مناسبه بريښنا رسول.

مأخذونه

Aldrich, L. (1997). Rural economic development: What makes rural communities grow? (No. 737). US Department of Agriculture, ERS.

Aref, F., Redzuan, M. R., Gill, S. S., & Aref, A. (2010). Assessing the level of community capacity building in tourism development in local communities. Journal of sustainable development, 3(1), 81.

Bradshaw, T. K., & Blakely, E. J. (2002). Planning local economic development: Theory and practice. Sage Publications.

Cavendish, W. (2000). Empirical regularities in the poverty-environment relationship of rural households: Evidence from Zimbabwe. World development, 28(11), 1979-2003 .https://doi.org/10.1016/S0305-750X(00)00066-8

Danilov-Danil'yan, V. I., Losev, K. S., & Reyf, I. E. (2009). Sustainable development and the limitation of growth: Future prospects for world civilization. Berlin, Heidelberg: Springer Berlin Heidelberg.

Dannenberg, P., & Kulke, E. (2016). Economic development in rural areas: Functional and multifunctional approaches. Routledge.

Davis, B., winters, P., Carletto, G., Covarrubias, K., Quiñones, E. J., Zezza, A., & DiGiuseppe, S. (2010). A cross-country comparison of rural income generating activities. World development, 38(1), 48-63 . https://doi.org/10.1016/j.worlddev.2009.01.003

Dempsey, N., Brown, C., & Bramley, G. (2012). The key to sustainable urban development in UK cities? The influence of density on social sustainability. Progress in planning, 77(3), 89-141. https://doi.org/10.1016/j.progress.2012.01.001

Deogharia, P. C. (2018). Diversification of agriculture: a review. Journal of Economic & Social Development, 15(1), 46-59.

Djurfeldt, Agnes Andersson, and Ellen Hillbom. "Pro-poor agricultural growth–Inclusion or differentiation? Village level perspectives from Zambia."

Geoforum 75 (2016): 220-233. https://doi.org/10.1016/j.geoforum.2016.08.002

Drazen, A., & Eckstein, Z. (1988). On the organization of rural markets and the process of economic development. The American Economic Review, 431-443.

Egbali, N. A. S. E. R., Nosrat, A. B., & Pour, S. K. S. A. (2010). Investigation challenges and guidelines development of rural tourism–A case study of Rural Semnan Province. South Asian Journal of Tourism and Heritage, 3(2), 61-75.

Faridi, M. Z., & Basit, A. B. (2011). Factors determining rural labour supply: A micro analysis. Pakistan Economic and Social Review, 91-108.

Feng, J. Z. (2012). Study on Rural Economic Development Based on Factor Analysis-A Case Study of Hubei Province. Asian Agricultural Research, 4(1812-2016-142979), 23-26.

García-Rojas, J., & Reyes-Rodríguez, J. (2020). Characterization success critical factors for the strengthening of rural enterprises: a literature review [Caracterización de factores críticos de éxito para el fortalecimiento de emprendimientos rurales: revisión general literaria]. HAL Post-Print, (hal-03149336).

Gardner, B. L. (2005). Causes of rural economic development. Agricultural Economics, 32, 21-41 .https://doi.org/10.1111/j.0169-5150.2004.00012.x

Huang, J., Zhang, Q., & Rozelle, S. (2008). Economic growth, the nature of growth and poverty reduction in rural China. China Economic Journal, 1(1), 107-122 .https://doi.org/10.1080/17538960701770547

Islam, R., & Hehui, J. (1994). Rural industrialization: An engine of prosperity in postreform rural China. World development, 22(11), 1643-1662. https://doi.org/10.1016/0305-750X(94)00071-9

Ivona, A. (2021). Sustainability of rural tourism and promotion of local development. Sustainability, 13(16), 8854 . https://doi.org/10.3390/su13168854

Janda, K., Rausser, G., & Strielkowski, W. (2013). Determinants of profitability of polish rural micro-enterprises at the time of EU accession. Eastern European Countryside, 19, 177-218. https://doi.org/10.2478/eec-2013-0009

Jiang, D., & Peng, C. (2018). The phenomenon of rural declining in the process of urbanization: Causes and governance—An analysis from the perspective of the implementation of “rural revitalization strategy”. J. Nanjing Audit. Univ, 15, 16-24.

Khodabandehlo, H., Farahani, H., Einali, J., & Cheraghi, M. (2024). Factors influencing the economic revitalization of rural areas through a meta-analysis approach. journal of sustainable rural development, 8(1), 19-34.

Long, H., Zhang, Y., & Tu, S. (2019). Rural vitalization in China: A perspective of land consolidation. Journal of Geographical Sciences, 29(4), 517-530. https://doi.org/10.1007/s11442-019-1599-9

Madu, U. A., Wakili, A. M., & Umar, M. H. (2013). Agricultural Extension Services: A Means For Improving Quality Of Life Of Rural Communities.

Melnyk, V., Dobizha, N., & Pohrishchuk, O. (2019). Economic development of rural areas in relation to the concept of building the competitiveness of regions. Herald of Economics, (1 (91)), 70-80 . https://doi.org/10.35774/visnyk2019.01.070

Pain, A. (2010). Afghanistan Livelihood Trajectories-Evidence from Kandahar. Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit

Pulver, G. C. (2020). Developing a community perspective on rural economic development policy. In 50 Years of Community Development Vol I (pp. 229-242). Routledge.

Qin, X., Li, Y., Lu, Z., & Pan, W. (2020). What makes better village economic development in traditional agricultural areas of China? Evidence from 338 villages. Habitat International, 106, 102286. https://doi.org/10.1016/j.habitatint.2020.102286

Rashid, M F., Ngah, I., Misnan, S. H. (2019). Revitalizing Rural Areas in Malaysia: A Framework for Economic Revitalization, IOP Conf. Series: Earth and Environmental Science 385,012004. https://doi.org/10.1088/1755-1315/385/1/012004

Rodela, R. (2010). A bottom-up rural regeneration initiative: a social learning analytical perspective.

Rozelle, S., & Boisvert, R. N. (1995). Control in a dynamic village economy: The reforms and unbalanced development in China's rural economy. Journal of Development Economics, 46(2), 233-252. https://doi.org/10.1016/0304-3878(94)00060-P

Sadat, A., Abdollahzadeh, G., & Sharifzadeh, M. S. (2022). Factors affecting the choice of livelihood strategies in rural areas of Zharai District, Kandahar province, Afghanistan. Iranian Journal of Agricultural Economics and Development Research, 53(2), 465-480 . https://doi.org/10.22059/IJAEDR.2021.329282.669078

Schrieder, G. R., Munz, J., & Jehle, R. (2000). Rural regional development in transition economies: the case of Romania. Europe-Asia Studies, 52(7), 1213-1235 .https://doi.org/10.1080/713663128

Shuang, R., & Liang, Z. (2019). Study on Model of the Rural vitalization from the Perspective of New Farmers in China. IETI Transactions on Social Sciences and Humanities, 5, 88-96.

Song, B., Zhao, J., & Zhang, P. (2022). A study on factors influencing the efficiency of rural agriculture financial support in China. Sustainability, 14(22), 14954. https://doi.org/10.3390/su142214954

Storey, D. (2009). Rural economic development.

Sýkora, L., & Bouzarovski, S. (2012). Multiple transformations: Conceptualising the post-communist urban transition. Urban studies, 49(1), 43-60. https://doi.org/10.1177/0042098010397402

Tuitjer, G., & Steinführer, A. (2021). The scientific construction of the village. Framing and practicing rural research in a trend study in Germany, 1952–2015. Journal of Rural Studies, 82, 489-499. https://doi.org/10.1016/j.jrurstud.2019.12.006

Wang, H., & Zhuo, Y. (2018). The necessary way for the development of China's rural areas in the new era-rural revitalization strategy. Open Journal of Social Sciences, 6(6), 97-106. https://doi.org/10.4236/jss.2018.66010

World Bank. (2020). Rural Population. Washington: World Bank.

Zinchuk, T., Kutsmus, N., Kovalchuk, O., & Charucka, O. (2018). Challenges of sustainable development of rural economy. Management Theory and Studies for Rural Business and Infrastructure Development, 40(4), 609-619. https://doi.org/10.15544/mts.2018.53

Determinants of Rural Economic Development: Evidence from the Sixth District of Kandahar Province, Afghanistan

Abdul Bari Mal[1*], Asadullah Sadat[1], Mohammad Younas Nazarzai[2]
[1]Department of Agricultural Extension, Faculty of Agricultural Economics and Extension, Afghanistan National Agricultural Sciences and Technology University, Kandahar, Afghanistan
[2]Department of Agricultural Economics, Faculty of Agricultural Economics and Extension, Afghanistan National Agricultural Sciences and Technology University, Kandahar, Afghanistan
[*]Corresponding Author Email Address: abdulbari.mal7@gmail.com

Abstract

The rural economy encompasses a wide range of economic and social activities that support the livelihoods of people living in rural communities. Agriculture, livestock production, and related enterprises constitute the principal sources of income and employment for rural households. Strengthening the rural economy is essential for improving living standards, generating employment, reducing poverty, and fostering sustainable economic growth. This study aimed to examine the key factors contributing to rural economic development. The research was carried out in Mahal-e-Nijat and Zor Shahr villages located in the Sixth District of Kandahar Province. Primary data were obtained from 48 households using a structured questionnaire and subsequently analysed through SPSS version 26. The results indicated that market accessibility, employment opportunities, efficient irrigation facilities, improved seed varieties, transportation infrastructure, telecommunication services, security conditions, vocational training, and development initiatives significantly contribute to rural economic progress. These factors enhance agricultural productivity, increase household income, strengthen economic resilience, and improve the welfare of rural communities. Based on the findings, the study suggests greater investment in agricultural extension services, improvement of rural infrastructure, and expansion of development programs aimed at creating sustainable economic opportunities in rural areas.

Keywords: Economic Development, Economic Factors, Income, Infrastructure Factors, Rural Development, Rural Economy, Rural Growth